محمد هارون خپل شعشعي

۱۷ سپتمبر ۲۰۱۱


## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۷

**۱۷- پرهېزګاري/ پرهېزکاري :**

تقوا يا پرهېزګاري په عام مفهوم سره داده، چي څوک له حرام مال او ککړي دوډۍ، شهوتو، نفسي کمزورۍ او بدو اخلاقو څخه ډډه وکړي . عارفان وايي : پرهېز ګاري د دين په لار کي، د سالک سپر دئ . رسول الله (ص) ويلي دي : هر هغه څوک، چي پرهېزګار سي په ډاډ سره ژوندکيږي؛ او د دوښمنانو په منځ کي خوندي يي . په اسلامي تصوف او عرفان کي، تقوا يا پر هېزکاري د ځان هېرولو په مانا هم کارېږي . د حق تعالی د سوځونکي ميني بې هوښه پتنګان، د خپلي عرفاني لاري په يوه پړاوکي، له هر څه پرهېز کيږي؛ ځان او جهان ټول هېريږي ، چي په دې توګه ريښتيني معبود ته ورسيږي ؛ او خپل فاني وجود د خالق تعالی په تلپاته او بې مثله هستۍکي ژوندی کړي [۱] .

په سپېڅلي قرآن کي، د تقوا په اړه پراخي او ارزښتناکي يادوني سوي دي . دحجرات د سورې د ديارلسم آيت (۴۹ : ۱۳ ) په وروستی برخه کي راغلي دي : « ... ان اکرمکم عندالله اتقاکم » ياني د الله تعالی په نظر ستاسي تر ټولو ښاغلی او عزتمن هغه څوک دئ، چي پرهېزګار يي . د قرآن عظيم الشان د بقرې د سورې په يوسلو اووه نيويم او دوه سوه اووه دېرشم آيت (۲ : ۱۹۷ ، ۲۳۷)، د مائدې د سورې په دوهم او اتم آيت (۵ : ۲ ، ۸)، د اعراف د سورې په شپږ ويشتم آيت (۷ : ۲۶)، د توبې د سورې په يوسلو اتم او يوسلو نم آيت (۹ : ۱۰۸، ۱۰۹)، د طاها د سورې په يوسلو دودېرشم آيت (۲۰ : ۱۳۲)، د حج دسورې په دودېرشم او اووه دېرشم آيت (۲۲ : ۳۲

، ۳۷ )، د فتحي د سورې په شپږ ويشم آيت (۴۸ : ۲۶)، د حجرات د سورې په دريم آيت (۴۹ : ۳)، د مجادلي د سورې په نم آيت ( ۵۸ : ۹)، د مدثر د سورې په شپږ پينځوسم آيت ( ۷۴ : ۵۶ )، د شمس د سورې په اتم آيت (۹۱ : ۸ ) او د علق د سورې په دولسم آيت ( ۹۶ : ۱۲ ) کي، د تقوا په باب الهي حُکمونه او لارښووني بيان سوي دي . په دې ګردو مبارکو آيتوکي، پرهېزګاري د نېک او ښه عمل په توګه ياده سوې ده . الله سبحانه و تعالی، خپلو مؤمنو بندګانو ته نه يوازي د پرهېزګارۍ ستاينه کړې ده؛ بلکي هغوی ته يې امرکړئ دئ، چي د تقوا په چارو کي يو له بله مرسته وکړي .

د پښتونظريه پرداز عرفاني لارښوود - پير روښان اورمړ انصارى (۹۳۱ - ۹۸۰ هـ ق ۲) پرهېزګارۍ ته په لوړه سترګه ګوري؛ خو زهد او عبادت په يوازيتوب سره، د پيرۍ او شېخۍ له پاره بس نه بولي . يووخت مريدانو، له پير روښان څخه د هغه زاهدد مقام په باب پوښتنه وکړه، چي شېخ عُمر نوميده ؛ او د بايزيد روښان له معاصرانو څخه ؤ. شېخ عمر، په ځينو پښتني سيمو کي په ډېر زهد او تقوا شهرت لاره . د پير روښان د مريدانو په وينا، هغه له ډېرښو کالو په مره ګېډه خواړه نه وه خوړلي؛ او د تل باري تعالی په عبادت بوخت ؤ . پير روښان، شېخ عُمر د داسي زاهد او عابد په نامه وباله، چي دپيرۍ مقام ته نه ؤ رسېدلیء . د پير روښان په نظر که يي د پير په لارښوونه دا ربړونه او رياضتونه کړي وای، نو د طريقت له ماشومتوب څخه به د حقيقت و بلوغ ته رسېدلیء وای؛ اود يوه خدای پېژندونکی عارف مقام به يي تر لاسه کړئ وای . په دې ډول، د پير روښان په باور، هر څوک چي د حق تعالی ذات و نه پېژني، د ګمراهانو او بي خبره کوچنيانو په څېر دئ۳ .

دپخواني کندهار په ځينو پښتني قبيلو کي د روښاني طريقت يوه مشهور او مخکښ لارښود، خليفه مودود۴، په خپل کتاب « مقصود الطالبين » کي د پرهيزګارۍ په باب خورا په زړه پوري او عجيبي خبري کړي دي، چي زموږ عارف شاعر، علي محمد مخلص، په خپل ارزښتناک عرفاني او تاريخي اثر (حالنامه )کي راوړي دي . دلته بې ګټي نه بولو، چي ګرانو لوستونکو ته د پرهېزګارۍ په اړه د خليفه مودود روښاني د عارفانه بيان پښتو ژباړه، په بشپړه توګه وړاندي کړو . خليفه مودود، هغه څوک پرهېزګار بولي، چي په دغو لسو حالتو کي پرهېزګاري وکړي : « په خوړلو، په اغوستلو، په ويلو، په خبرو، په راز ويلو، په کتلو، په پوهه ښوولو، له نفس سره په چال چلند ، له زړه سره په چلند او له دين سره په چلند کي .»

### د خوړلو پرهېزګاري پر پينځه ډوله ده :

- په ماړه نس ډوډۍ و نه خوري، که څه هم حلاله يي . په ماړه نس ډوډۍ خوړول د سُنت خلاف دئ؛ او له هغه څخه د زړه تورتم پيداکيږي .
- له تمي څخه ډډه وکړي، چي د طاعت خوږوالی له منځه وړي .
- له حرام خوړلو پرهېز وکي .
- چاته حرام خواړه ور نه کي .
- په ګومان سره د خوړلو پرهېز وکي . د حرام خوړلو، چا ته د حرامو خوړو د ورکولو او په شک و شبهې سره د څه خوړولو له امله د برکت او بري دروازه تړل کيږي .

### د اغوستلو پرهېزګاري پر پينځه ډوله ده :

- د وربښمنيو جامو له اغوستلو پرهېز وکړي .

- د لاپو او ښکلا دپاره د زرینو جامو له اغوستلو پرهېز وکړي .
- د سُنت پر خلاف د جامو له ګنډولو ډډه وکړي .
- د داسي کالو له اغوستلو ډډه وکړي، چي په اصل کي يې شبهه يا ګومان نغښتی يې .
- له اوږدو جامو ډډه وکړي .

**د ویلو پرهېزګاري پر پینځه ډوله ده :**

- له دروغو ډډه وکړي .
- له چوغلیيو ډډه وکړي .
- له تر شا خبرو يا غيبت کولو پرهېز وکړي .
- له ښکنځلو او لاپو ډډه وکړي .
- د هغو سندرو له ویلو ډډه وکړي، چي د نوس د غوښتني دپاره يي .

**د خبرو پرهېزګاري پر پینځه ډوله ده :**

- له کاپير ( کافر ) سره خبري و نه کړي؛ ځکه چي له کاپيرانو سره خبري بېلتون را ولي .
- له بدعت کوونکو سره خبري ونه کړي، چي ناوړتيا راولي .
- له فاسقانو سره خبري ونه کړي، چي ګونا رامنځ ته کوي .
- له شتمنو سره خبري ونه کړي، چي له شتمنو کسانو او پاچا سره خبري، د افسوس يا ويش و واخ سَوَب ګرزي .
- له ناپوهانو، کوچنیانو او ښځو[ ښايي مقصد يې نامحرمي ښځي وي ] سره خبري و نه کړي، چي خبري يې دوښمني او ناوړه ګومان را منځ ته کيي .

**د ویلو پرهېزګاري پر پینځه ډوله ده :**

- بايد ښځي ته له راز ویلو ډډه وکړي .
- کوچني ته راز و نه وايي .
- دوښمن ته راز و نه وايي .
- خپلو غلامانو ته راز و نه وايي .
- هر دوست ته هم خپل راز و نه وايي؛ ځکه ويلي يې دي، هر څوک چي ښځي ته راز وايي، په دې مانا دئ لکه پر اور چي پروړ واچوي؛ او بيا و وايي مه يې سوځه . هغه څوک چي کوچني ته راز وايي، د هغه چا په شان دئ، چي پر ختو اوبه واچوي؛ او و بيا و وايي چي ځان مه لندوه . هغه څوک چي دوښمن ته راز وايي، دهغه چا په څېر دئ، چي په لوی لاس ځان رود ( سيند) ته اچيي؛ خو بيا وايي، چي مه مي ډبوئ . څوک چي غلامانو ته راز وايي، له هغه چا سره ورته والی لري، چي پيشي ته غوښه اچيي؛ خو ورته وايي، چي مه يې خوره . څوک چي هر دوست ته پټي خبري وايي، هغه چاته ورته دئ، چي په کور کي اور بليي؛ خو غواړي چي لوګي يې تر دودکښ دباندي و نه وزي . دا ټول کارونه د ناپوهی له کبله کيږي .

**د کتلو پرهېزګاري پر پينځه ډوله ده :**

- په لوی لاس بايد پرديو نامحرمو ښځو ته ونه ګوري .
- د مور، خور، خاله ( ترور ) په څېرمحرمو ښځو ته بايد د شهوت په سترګه ونه ګوري .
- کوچنيانو ته د شهوت په سترګه و نه ګوري .
- په لار کي د خلګو دروازو او کړکيو ته ونه ګوري .
- دونيا او د هغې ښايست ته و نه ګوري .

**د پوهي په ښيلو او زده کولوکي پرهېزګاري پر لس ډوله ده، چي پينځه يې په پوه يا عالِم او پينځه نور يې په زده کوونکي يا مُتعلِم پوري اړه لري . دپرهېزګارۍهغه پينځه ډولونه دادي ، چي په پوه ياعالِم پوري اړه لري :**

- بايددکومي پلمي او اسري په خاطر پوهه و نه ښيي .
- بايد په ريا سره پوه و نه ښيي .
- د ښووني پر مهال شتمن تر بې وزلي غوره ونه ګڼي .
- خپله رايه و نه ښيي .
- هغه څه چي ښيي، بايد تر ښيلو مخکي يې په خپله هم په کار واچيي .

**د زده کوونکي دپرهېزګارۍ پينځه ډولونه :**

- بايد په پوهه کي له بدعت کولو ډډه وکړي .
- دهغه استاد لوست او غونډي ته ور نسي، چي خويونه او مذهب يې و نه پېژني .
- د سُنت او جماعت په هيڅ عالِم کي، عيبونه او نيګړتياوي و نه پلټي .
- له هيڅ پوه ياعالِم سره بې ځايه ژبه و نه کړي .
- د پوهانو سپکاوی او بې عزتي و نه کړي؛ او هغوی ته په هيڅ ډول ازار و نه رسيي .

**له نفس سره د چلند پرهېزګاري پر پينځه ډوله ده :**

- ډېر خوب ونه کړي .
- ډېر خواړه ونه خوري .
- ډېري خبري و نه کړي .
- د ډېري شتمنۍ غوښتنه ونه کړي .
- د نامه او شهرت غوښتنه ونه کړي؛ ځکه په ډېرو خبرو سره، ډېره ګونا کيږي؛ د ډېر خوب له امله اروا ناجوړه کيږي؛ او زړه مري؛ په ډېرو خوړو سره، ځان ناروغه کيږي؛ په ډېري شمتنۍ سره دوښمنان پيداکيږي؛ له نامه او شهرته انسان بدمرغه کيږي .

**له زړه سره د چلند پرهېزګاري پر لس ډوله ده :**

- پر خلکو بد ګومان و نه کړي، چي ګومان حرام دئ .
- له خلکو سره رخه و نه کړي، چي بدمرغي راولي .

- له چا سره د هغه د شتو اومال له کبله دوستي ونه کړي، چي د ټولوګوناوو پيلامه ده.
- د خدای تعالی په اړه ناوړه ګومان ونه کړي، چي  دا د منافقانو کار دئ .
- له چاسره دوښمني ونه کړي، چي په دې کي د ايمان د ورانېدو بېره ده .
- په زړه کي لويي او اوږدې هيلي و نه پالي، چي په هغو کي د زړه وراني ده .
- مړينه هېره نه کړي، چي له هغه څخه ګور ورانيږي .
- په زړه کي له فاسقانو سره مينه ونه لري، چي د هغو په دوستۍ سره د خدای رحمت  ليري کيږي .
- له نېکو خلکو سره دوښمني و نه کړي، چي له هغې څخه د خدای  تعالی قهر او غوسه را پاريږي .
- په زړه کي، د خپل طاعت له امله  لويي او تکبر و نه کړي، چي لويي د ايمان له منځه وړل دي .

### د دين په باب پرهېزګاري پر پينځه ډوله ده :

- بايد پر دونيا باندي د دين له پلورلو ډډه  وکړي .
- بايد د دين په چارو کي له بدعت ګډولو پرهېز وکړي .
- بايد د دين له ښمنتانو سره مينه ولري؛ او له ازاره يې ډډه وکړي .
- بايد د دين له مخالفينو سره دوښمني ولري .
- بايدشپه او ورځ د ايمان له لړېدو څخه بېره ولري؛ او هڅه وکړي، چي دين يې سم  او پياوړی يې[۵] .

علي محمد مخلص، په خپله عرفاني شاعرۍ کي، د تقوا او پرهېزګارۍ د ښېګنو په اړه ډېري  ښځي خبري کړي دي.  هغه په يوه پارسي مثنوي کي، لومړی دانسانانو او نورو مخلوقاتوتر منځ د بېلابېلو توپيرونه منطق بيانيي ، چي د لوی ښتن د بې ساري ځواک په مانا دئ؛ ځکه د هغه په بې حسابه مخلوقاتو اونا پايه کايناتوکي دوه شيان يوه بنه او يو طبيعي ځرنګوالی نه لري  .  په حقيقت کي، د حق تعالی د پر اخ  طبيعت ښايست او اعجاز هم  په دې تنوع او رنګارنګی کي نغښتی دئ . مخلص، وروسته  د قرآني نصوصو پر بنسټ  د انسانانو ښه والی او فضيلت  نه د هغوی په مال او شتمنيو، کورنی او نسب، شان او شوکت، اتلوالی او زړورتيا، بلکي د هغوی  په ښو خويونو او نېکو کارونو، پوهه  او تقوا کي ګوري :

« هست مر هر جنس را بر جنس خويش
فضل بشنو همچنان در عِلم و کيش
هســـت فضل اسپ بر اسپ ديگر
هست فضل برچه  بر برچۀ ديـگر
همچنين فضل مکانست بر مـکان
هست اين نوع زمـان را بر زمان
هم بدين سان فضل در جنس شــجر
در نگری راز جو هــم در ثـمر
هست فضل مرد بر مرد ای جـــوان!
همچنان فضل زنانست بر زنــان
هر که را تقوا و دانش بيشـتر
نزد مولا قــرب دارد بيشـــــتر

ور نه آدمی زاد از یک مادر انـد
در حقیقت نیز از  یک جوهر انـد
هر که دارد عِلم و تقوا فاضل اســت
از دیگر انسان کزین بی حــاصل است
فضل  خود بشناس نزد حق عزیــز
عِلـــم و تقوا گر هـــمی داری تمیز
فضل حق خود از عِلم و تقوا واشناس
نی ز بسیار ســیم و زر اناس
زانکه مر قارون را بود زر و مـال
مال و زر کرده مر اور پایمــــال
عاقبت قارون شده زیر زمــین
زر و سیمش نیز رفتــه هم قرین
نی بدانید فضل  از اسپ  و  حشـم
نی ز بسیار لشکر و خــدم
زور لشکر پیش فرعون لعـین
بیشتر از حساب بود [ ای ] مرد دیـن
مال و زر را نیست پیش حق وقــار
نی بسی لشکر حشم ای نامــدار
عاقبت کرد به جزر اورا ذلیـل
غرق کرد در میان آب نیـل
نی بدانی فضل خود از جــامه
گر بود دیبــا شنو مر د تمیز
زانکه هم طاووس هم مــرغ زرین
خوش لباس اند از تو، بشنو خویش بین
نی بدانی فضل خود را از نــبرد
گر کنی تنها چو آن با چهـار مرد
زانکه در هند دانـک  هم کناس
جنگ جویند بشنـو از من ای انـاس
چون بیابی این صفت در کافـران
پس منه جان فضل خود بر دیگــران
فضل خود را واشناس ای مخلــصا!
در اطاعت مرشد خود را فنـا۶ »

مخلص،  په یوه غزله کې پر  هېزګاري، د بېلابېلو خندو او حجابو په وړاندې د سالک د زغرې په شان ګني :

صبر کوټ، تقوی دي ژغره، شرم خول کړه!

دا روژه دي دايم سپر دئ و ملعون ته

هر زمان توبه لينده، استغفار غشــی

رښتيا توره کشيده اهل قــارون ته

په يوه بله غزله کي، د يار په مينه کي پرهېز ، له اغيارو او تعلقاتو څخه د هراړخيز پرېکون په مانا بولي :

هر اشيامثال پياله ده د شـــرابو

د حق ذات پکښي شراب په کار زما

د پرهېز څکه مي وکړه له کُل غيره

د يار حُب شه په باطن زنـــار زما

مخلص، دونيا د پرهېزکارۍ او عبادت پټۍ ګڼي . هوښيار او عاقل ته خبردار ی ورکيي، چي په ژوندانه کي له دې پټي کار واخلي :

د پرهېز، طاعت توښه کړه نن حاصله

د رحلت په وخت به سود نه وي له ټاپه

مخلص، په رسمي او ظاهري پوهه غره عالِم، عابد او پرهېزکار ته د خدای تعالی په لار کي د ماشومانو په سترګه ګوري؛ ځکه هغوی ريښتيني معبود ته د رسېدو په لار کي، له ډول ډول عوارضو او خنډو سره مخامخ دي . له دې امله تر منزله نه رسيږي . د حق تعالی د ميني حقيقي پتنګ، يوازي موحد عارف دئ، چي د خپلي باطني پوهي په برکت په ټولو پټو حقيقتو خبر دئ او له خپلي لېونی ميني پرته هيڅ نه پېژني؛ لکه څنګه چي وايي :

« عالِم و عابد و زاهد همه طفلان رهند

مرد گر هست به جز عالِم ربانی نيست۷ »

په يوه ښايسته غزله کي يي، د پرهېزکارانو دوې ډلي بيان کړي دي، چي يوه يي د زاهدانو ډله ؛ او بله ډله يي د عاشقانو ډله ده. مخلص، د هونرمندی او ښکلا په دې زړه وړونکي انځور کي، د زاهدانو او عاشقانو د پرهېزګارۍ څرګند توپيرونو بيانيي؛ او د خپل محبوب په دې پېرزوينه ډېر وياړي، چي د دونيا او عقبا مينه يي د ده د زړه له طاقه ليري کړي ده :

خايفان د اور له بيري پرهېزګـار دي

عاشقان يي پرهـېزکار دي له فراقـه

د دوزخ د اور له تاوه پرهـېز نه کـه

له دوزخه جدايي پر عاشق شاقـه

اوس طاعت يي د معشوق په خوشنودی دئ

د رجأ و خوف طاعت يي که بي باقـــه

په عوض بندګي مزدور که په عالَم کښي

بي عوضه بندګي کړي خواره عاقـــه

که زاهد و حور، قصور وته هوس کـه

رند عاشق يي و ديدار ته دئ مشتاقـه

حقيقي محبوب به چري پر راضــي شي

ځو چي نه که د بهشت حوره طلاقــه

د عقبا عروس به مخ ور ښکاره نه کــه

ځو دنیا و دین دور نه که له وثاقــه

چه بې دوسته په څه خوښ شي په دوو کـــونو

له محبوب سره یې قطعي وي شقاقــه

پر مخلص عاشق یې څکه مِهــــر ډېر دئ

د دوو کونو حُب یې کوز د زړه له طاقه

د نور مالومات له پاره وګورئ : عبادت او عابد، زاهد او زهد، دنیا، عقبا او مولا ، عرفان او معرفت .

لمنلیکونه

١ رزمجو ٢۴٨.

٢ په ډېرو تاریخي او ادبي آثاروکي، د بایزید روښان اورمړ [ انصاري ] د مړیني بېلابېلې نېټې په ګوته سوي دي . د علي محمد مخلص « حالنامه » د پیر روښان او د هغه د کورنۍ د ژوند او مبارزو په باب تر ټولو باوري او مؤثق سند د ئ . د بایزید روښان د مړیني نېټه، په « حالنامه » کي داسي لیکل سوې ده : « ... به تاریخ هجری نه صد و هشتاد سنه ( ٩٨٠ ) از هجرت رسالت پناه به وصال دوست پیوست . » وګورئ : مخلص، حالنامهٔ پیر روښان ٣٨٧. داسي ګومان کیږي، چي په دغه متن کي د« هشتاد » او « سنه » د ټکو تر منځ د « و » توری د ناسخ د تېروتني له امله لوېدلیء یې؛ او د « سه » ټکی هم د خطي نسخي د کاتب د تېروتني له امله د « سنه » په بڼه کښل سوئ یې ؛ څکه په متن کي هم د« تاریخ » ټکی راغلیء او هم د « سنه » ټکی . خو په « حالنامه » کي د پېښو د تاریخو یا نېټو په مقصد د داسي ټکو یو ځای والی په ځینو نورو ځایو کي هم لیدل کیږي . د همدی دلیل پر بنسټ تر هغه مهاله، چي د « حالنامي » د بلي نسخي یا نورو تاریخي سندو له مخي، په دې اړه ځرګند او روښانه ثبوت پیدا نسي، ( ٩٨٠ هـ ق کال ) د پیر روښان د مړیني کال دئ .

٣ مخلص، حالنامهٔ پیر روښان ٢١۴ .

۴ خلیفه مودود، په ختهٔ ترین پښتون و، چي د هندوستان په سرهندکي اوسېده . کله چي د هندوستان په بېلابېلو سیموکي، د پیر روښان د پیرۍ او حق ښوونې اوازه خپره سوه؛ د مریدی له پاره د پیر روښان حضور ته ولاړ . خلیفه مودود له پیر ر وښان څخه د عرفاني سلوک تر زده کړي وروسته د پښتنو د تر ینو او کاسیانو په قبیلوکي، د روښاني طریقت د خلیفه په توګه، دخلکو عرفاني لارښوونه کوله . د ژوند په وروستیو وختو کي بیر ته سرهند ته ولاړ؛ او هلته ښخ دئ . وګورئ : مخلص، حالنامهٔ پیر روښان ٢٧٢.

۵ مخلص، حالنامهٔ پیر روښان ٢٧٩ - ٢٨٢ .

۶ مخلص، حالنامهٔ پیر روښان ۶٠٧- ۶٠٨ .

٧ مخلص، حالنامهٔ پیر روښان ٢١۴ .